# اولسي ادب ته دنړیوالو پام:

په ټول ختیځ کښې عموماً او زموږ په هیواد کښې خصوصاً په فني ډول اولسي ادب ته پاملرنه او دفولکلور راټولول ډیر اوږ تاریخ نه لري. خو په لویدیځ کښې له یوې نیمي پیړۍ څخه راپه دې خوا زیاته پاملرنه شویده.

د هراولس فولکلور دلیکلي ادب په انډول دعمر په لحاظ دومره پخوانی دی چې حتی د ماکسیم ګورکي خبره دلفظي هنر پیل په فولکلور کښې دی ، خو دفني څیړنو له مخې دلیکلي ادب څخه ډیر کشر او نژدې زموږ همزولی دی.

په لویدیځه نړۍ کښې نه یوازې دا چې د فولکلور په (مجموعي) څیړنو او راټولولو باندې په هر هیواد کښې لوی لوی علمي ټولني او اکاډمۍ موظفې دی بلکې دفولکلور په هرې برخې متلونه، افسانو ، سندرو،او نورو ډیر پوهان کار کوې دا څیړنه پخوا البته په ذوقي ډول کېده خو په سیستما تیک او عملي ډول له ۱۸۴۶ع کال څخه راپه دې خوا په لویدیځ کښې پیل شوې او بیا ورسته دنړۍ په نورو برخو کښې هم وخت په وخت پیل شو. علمي موسسې یې په څیړنه او ټولولو موظفې شوې ، دبشر پوهني په ښوهنځیو کښې ددرسي مضمون په حیث ځای ورکړشو او دخپرولو دپاره یې مجلو او جریدو په کار پیل وکړ.

## دپښتو اولسي ادبیاتو وېش:

دپښتو اولسي ادبیات په لومړي سرکې په دوو برخو باندي وېشل کېږي:

۱-**منظوم اولسي ادبیات**:

۲-**منثوراولسي ادبیات**:

دپښتني فولکلور په ویړه لمن کې مطالعه دا را څرګندوي چي تراوسه پوري ددغي ټولني ټولي فولکلوري سندري لکه څنګه چي ښایي نه دي راټولي شوې دساري په توګه په اولسي سندرو کې عمومي او خصوصي ټولي سندري تر۱۳۱۷ کال پوري (۱۸) ډوله ښودل شوي وې .

کله چي په کال ۱۳۴۹ دخلکو سندري نومي کتاب خپورشو دغه شمېره تر (۲۵) ډولو پوري ورسېده وروسته چي دلته په افغانستان او لره او بره پښتونخوا کې دفولکلور یستانو دمطالعې لمن پراخه شوه نودفولکلوري سندرو نور ډولونه لکه سلسلی ، سولی ، برغازی، سنځرخېلی نارې ، چغیان او نور نور ډولونه دفولکلور یستانوله خوا هلته او دلته کله په کتابي بڼه او کله هم په متفرقو بڼو وښودل شو چي وروسته به په خپل وار پرې خبري وشي ،پښتو اولسي سندري لکه معلوم او نامعلوم اریایي سرودونه په دوو برخو وېشل کېږي: